بسم الله الرحمن الرحيم

سر یال نمبر: 493

یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# شمالي وزيرستان: د امنيتي ځواکونو يو بل کامياب عمليات پر امنيتي منسوبينو بريد کې ښکيل درې ترهګر دوزخ ته واستول شول

امنيتي ځواکونو دته خېل تحصيل په اوم واله کې دترهګرو د نقل و حرکت په اړه دخفيه معلوماتو په اساس په عملياتو کې درې خوارج وژلي دي۔

د تفصيلاتو له مخې، امنيتي ځواکونو د ترهګرو د تګ راتګ په لاره کې کمين نيولی او هغه مهال يې په نښه کړ کله چې دوی د امنيتي ځواکونو په وړاندې د عملياتو لپاره د اوم وال په لور روان وو۔ په متقابلو ډزو کې دوه خوارج ووژل شول او دوه سخت ژوبل شوی۔







امنيتي ځواکونو د ترهګرو د تېښتې لار په نښه کړه او په بېلابېلو ځايونو کې يې چاپه ووهله او تښتېدلي ترهګر يې په نښه کړل او د ډزو په تبادله کې يو بل ترهګر ووژل شو۔

د امنيتي ځواکونو لخوا په نښه شوي ترهګر تيره اونۍ په منظرخيل کې په ترهګريز بريد کې لاس درلود۔ د خوارج بزدله رهبري نه شي کولای خپل مړي ومني او چپه خوله پاتې دی۔

په دته خېلو، دوسلي او شاوخوا سيمو کې د امنيتي ځواکونو او کشفي شبکو د ګډو عملياتو له امله ترهګرو ته درنه مرګ ژوبله اوښتې او ترهګر له امنيتي ځواکونو څخه پټېدو هڅه کوي۔ الحمدلله د امنيتي ځواکونو د برياليتوبونو لړۍ دوام لري۔

مورخه: ۲۰ مارچ ۲۰۲۴ء

www.publicvoice.pk